٦٧٧

هفته نامه

بجز اصلاح اراده دیگری ندارم سوره هود ۸۸

اصلاح ملی

سیاسي، ټولنیزه او فرهنګي اوونیزه

۲۰مه ګڼه، د ۱۳۹۶ لمریز کال د اسد ۲۸مه د ۱۴۳۸ هـ ق ذوالقعدې ۲۷مه د ۲۰۱۷م د اګست ۱۹مه

د ذوالحجې

لومړی لسیزه له لاسه مه ورکوئ

به مناسبت نود و هشتمین سالروز استرداد استقلال افغانستان

گوشه‌ی از قهرمانیهای مجاهدین در جبهه‌ی جنوب کشور

د خپلواکۍ په کلیزه کې افغانان سره یو کړئ

د ذوالحجې لومړی لسیزه له لاسه مه ورکوئ

الله جل جلاله په قران کریم کې فرمایي: [و الفجر و لیال عشر] الفجر ۱، ۲

قسم په سپیده چاود او په لسو شپو.

د ډیرو علماؤو په اند له دې لسو ورځو نه د ذولحجې اولنی لس ورځې مراد دي. په دې ورځو باندې د الله جل جلاله قسم خوړل د هغو په ارزښت دلالت کوي او باید هر مسلمان ورته پاملرنه وکړي. رسول الله صل الله علیه وسلم فرمایي: [د نورو ورځو په پرتله په دې ورځو کې ښه اعمال الله جل جلاله ته ډیر خوښ دي. پوښتنه ترې وشوه چې ان د الله په لار کې جهاد هم؟ هغه ځواب ورکړ: حتی جهاد هم، مگر هغه کس چې جهاد ته د خپل مال او ځان سره ځي او بیرته یو هم رانه وړي] بخاري.

په دې ورځو کې څه وکړو

هغه عبادات چې په دې ورځو کې یې په کولو ټینګار شوی په لاندی ډول دي:

۱ - روژه نیول: مور ته په دې ورځو کې د غوره اعمالو د کولو امر شوی دی او روژه یو له هغو نه ده لکه چې په حدیث قدسي کې راغلي: د بني آدم ټول اعمال د هغه لپاره دي پرته د روژې نه چې زما لپاره ده او زه به دهغې بدله ورکوم- بخاري

همدارنگه پیغمبر صل الله علیه وسلم فرمایلي دي: هیڅ بنده د الله په لاره کې یوه ورځ روژه نه نیسي مگر الله سبحانه و تعالی یې مخ د جهنم د اور څخه د اویا کلونو مزل په اندازه ژغوري.

۲- قیام اللیل (د شپې لمونځ کول): رسول الله صل الله علیه وسلم فرمایلي دي: [له دې ورځو نه د هرې ورځې روژه نیول د یو کال روژې نیولو په څیر ده او په هره شپه کې ودریدل یې داسې دي لکه د کال ودریدل] ترمذي

۳- د ډیر زیات تهلیل (لا اله الا الله)، تکبیر (الله اکبر) او تحمید (الحمدالله) ویل: عبدالله ابن عمر رضي الله عنهما نه روایت دی چې نبي کریم صل الله علیه وسلم وفرمایل: [له دې ورځو نه د الله جل جلاله په نزد غوره ورځې نه‌شته او په دې لسو ورځو کې ښه اعمال الله جل جلاله ته ډیر محبوب دي، نو په دې ورځو کې زیات تحلیل، تکبیر او تحمید ووایئ]. نارینه به یې په لوړ آواز او ښځې به یې په پټه وایې. سړي یې باید په مسجدونو، کوڅو، بازارونو او په ټولو هغو ځایونو کې چې د الله تعالی یادول روا وي، ووایي.

ابن عمر او ابوهریر رضي الله عنهما به د ذالحجې په لسو لومړیو ورځو کې بازار ته تلل او تکبیر به یې وایه او کله به چې خلکو اوریده نو هغوی به هم وایه.

۴- توبه ایستل: سره له دې چې توبه باید په ټولو وختونو کې وویستل شي، خو ځرنگه چې د خلکو زړونه په دې ځانگړو ورځو کې عبادت ته خواته میلان کوي، نو غوره ده چې په دې ورځوکې د ښښې سوال وشي. په دې ورځو کې د توبې ایستل او غوره اعمال به ان شاء الله په مسلمانانو کې اصلاح راوړي چې خپلې خطاوې تکرار نه کړي او ښو اعمالو ته دوام ورکړي.

اصلاح ملی را از اینجا بدست آورید:

کابل: تایمنی، چهارراهی حاجی محمد داد، سرک ۴، دفترمرکزی جمعیت اصلاح . موبایل: ۰۷۸۰۷۴۱۳۱۲

کابل: کوته سنگی، سرک سیلو، بلاک های شاداب ظفر، انتشارات اصلاح افکار. موبایل: ۰۷۷۸۱۹۱۳۸۲

کابل: شهرنو، چهارراهی انصاری، کتاب فروشی رسالت. تیلفون : ۰۴۰۲۲۰۳۳۵۹

کابل: انتشارات مستقبل مقابل بلاک های شاداب ظفر

کابل: کمپیوتر فروشی اکاموي جاده نادر بشتون، مارکت الله نظر، منزل ۲ دوکان ۲۳ ، موبایل ۰۷۹۹۳۹۰۸۱۹

کابل: ده افغانان، کتاب فروشی بیهقی

کابل: انتشارات بنیاد علمی و فرهنگی مسجد جامع پل خشتی موبایلها: ۰۷۹۹۰۱۱۱۱۱ / ۰۷۵۲۲۲۲۲۲۲

ننگرهار: جلال آباد، چهل متره سړک، د سید اکرام دوکانونه، د ماشومانو زوړ مسجس ته څېرمه د جمعیت اصلاح ساحوي دفتر. ټیلفون:۰۷۰۰۶۳۲۴۸۰

ننگرهار: جلال آباد: اسحاقزی مارکیټ، لاندې منزل، اصلاح افکار. ټیلیفون:۰۷۹۳۷۷۸۸۸۱

کندهار: نوی بنار، د هرات سړک، د سرې جامع غرب طرف ته سورې مېنه د امام ابوحنیفه (رح) تعلیمي او کلتوري مرکز د جمعیت اصلاح ساحوي دفتر. ټیلفون: ۰۷۰۵۲۳۰۵۸۳

لغمان: مهترلام بنار، حمزه مارکیټ. ټیلیفون: ۰۷۷۵۶۷۶۰۹۹

هرات: سرک باغ آزادی، ابتدای جاده محبس ابن سینا۱ انجمن اخلاق و معرفت . موبایل:۰۷۸۹۰۰۸۱۵۲ - ۰۴۰۲۳۷۰۱۲

بلخ: گذر استالفی ها، عقب لیسهٔ خانه نور، دفترساحوی جمعیت اصلاح. موبایل: ۰۷۸۸۸۰۴۰۵۵

کندز: شهرکندز، جاده ولایت، کوچه حاجی میری، پوهنتون سلام. ۰۷۸۷۷۰۳۷۲۴

بغلان: پلخمری، مارکیت اتفاق کتاب و قرطاسیه فروشی رسالت موبایلها: ۰۷۷۷۴۷۶۴۶۹ / ۰۷۰۰۵۸۹۸۵۷

لوگر: محمد آغه، واغجان بازار، پهلوی کلینیک حسین خیل . موبایل: ۰۷۷۵۴۳۸۷۶

لوگر: مرکز ، مدینه مارکیت سرک مسجد جامع ، کتاب فروشی سادات،سید عبدالحمید هاشمی.موبایل: ۰۷۰۰۴۴۹۸۸۱

پکتیا:دگردیزبنار، مرکزی چوک ، دنی نمایندگی . وحیدالله:۰۷۷۹۲۱۳۸۲۲

خوست : افغان ټاور، شاته خوست مرکزي طبي لابراتوار دوهم پوړ د جمعیت اصلاح ساحوي دفتر ډاکټرمحمد گلاب:۰۷۹۹۱۷۴۵۴۶ / ۰۷۷۷۱۷۴۵۴۶

تخار: آموزشگاه علمی رسالت- واقع چهار راهی تیل فروشی- تیل فروشی سابقه. ۰۷۷۹۶۳۴۱۹۲

بدخشان: فیض آباد: ۰۷۰۷۸۳۱۳۶۴ / ۰۷۷۵۲۷۰۵۰۸

زابل: قلات، عمومی جاده، د تجارانو کوڅه د غوثي رهنمای معاملات ترخنگ، شمېره: ۰۷۷۳۵۸۰۲۰۹ / ۰۷۰۶۵۲۷۱۸۶

فراه: ناحیه سوم، مقابل مسجد جامع قاضی، مرکز علمی و فرهنگی توحید. موبایل: ۰۷۹۹۸۴۳۶۱۱

نیمروز: سرک ولایت ، نارسیده به قوماندانی امنیه، مرکز علوم قرآنی اعجاز، سید امیر قریشی: ۰۷۹۶۳۰۹۱۴۰

قیمت یک شماره ۱۰ افغانی

جمعیت اصلاح افغانستان

بخش فرهنگی و نشرات

هفته نامه اصلاح ملی

داسلام داصیل فهم منبر

Email:eslahmilli@gmail.com

مدیر مسؤول

محمد شعیب قریشی

اعضای هیأت تحریر:

نقیب الله حمید
سردارمحمد دیندارخیل
رحیم الله حریفال
عزیزاحمد حنیف
وحید الله مصلح
عبدالوهاب هائد

شماره مسؤول توزیع: ۰۷۸۰۷۴۱۳۱۲

آدرس بانکی: جمعیت اصلاح و انکشاف اجتماعی افغانستان
نوی کابل بانک
A/c No: 1001202080036 (Afghani)

آدرس بانکی: جمعیت اصلاح و انکشاف اجتماعی افغانستان
نوی کابل بانک
A/c No: 1001201080036 (Dollar)

سرمقاله

د خپلواکۍ په کلیزه کې

افغانان سره یو کړئ

دا دې یوځل بیا له انګریزي ښکېلاک نه د آزادۍ ورځ را ډبره شوه، او له زاړه انګریز نه زمونږ د هېواد آزادي ۹۸ کلنه شوه، خو لا تر اوسه هم همدا ښکېلاکګر په یوه او بل نامه زمونږ پر برخلیک برلاسي دي او لوبې پرې کوي او دهغه هدف او موخو لپاره چې زمونږ مسلمان ولس قرباني ورکړې‌وه هغه اوس هم تر پښو لاندې کېږي.

د انګریزانو ستره ډالۍ (چې بې‌اتفاقي او ملت ویشنه ده) له پرون څخه نن په ډېر قوت سره پلې کېږي او نن چې افغان واحد مسلمان ولس سره څومره ټوټه ټوټه دی، د تېر تاریخ په هیڅ پړاو کې یې ساری نه لېدل کېږي او نه هم تېر استعمار پر دې بریالۍ شوی ؤ، چې لکه د نن په څېر افغان په افغان ووژني او افغان له افغان سره د ژبې، قوم، سیمې او مذهب په نامه جلا او بیل کړي، بلکې د ننې انګریز پرونۍ لوبه نن لا ښه ګرمه ده، تر دې چې ډیرى افغانان د دې لوبې یوه قوي برخه دي او د خپلو شخصي ګټو لپاره د ملت ویشنه او وژنه ورته ډېره وړه خبره ښکارېږي.

دا چې هرځل افغانانو یو ښکېلاک پرځولی او په ګونډو کړی دی، بېرته تر هغه هم د غټ ښکېلاکګر د دسیسو ښکار شوي دي او په بل نامه، بېله بڼه او نویو شعارونو د همغه زاړه ښکېلاکګر تالې‌څټې او جاسوسان پرې واکداران شوي دي او هېواد یې د پرمختګ او هوساینې له کاروانه په مودو مودو وروسته کړی دی او د همغو کسانو وینې یې تویې کړي دي، چا چې له ښکېلاکګرو د آزادۍ په اخیستلو کې قربانۍ ورکړي وي، چې ښې بېلګې یې څه باندې نهه لسیزې وړاندې له انګریزانو سره د جګړه کونکو مجاهدینو او لږه موده وړاندې د شوروي اتحاد له متجاوزو لښکرو سره د ډغره وهونکو حال شو، چې تر ډېره دا حالت په‌خپله افغانانو پر ځانونه راوستلی ؤ او اوس هم تر ډېره د روان حالت پرې پر افغان مشرانو ده.

دا چې ملتونه او ولسونه له خپل تېر تاریخ څخه پند او سبق اخلي، خو نه یوازې دا چې زمونږ مشران او کشران له تېر نه پند نه اخلي، بلکې غواړي چې نن یې هم د تېر په څېر وي او اکثره د خپلو وړو وړو ګټو لپاره پخپله ځانونه د دسیسو او لوبو قرباني کوي او د ملت هرڅه له خاورو سره خاورې کوي.

نن چې له انګریزي ښکېلاک څخه د آزادۍ ۹۸ یمه کلیزه لمانځو، نو راځئ چې له تېر څخه داځل یو څه واخلو !

راځئ چې نور د پردیو لپاره په خپلو کې سره اخته نه شو او د نورو د ګټو لپاره د خپل هېواد او خلکو ګټې تر پښو لاندې نکړو.

سوله چې له څو لسیزو راهیسې زمونږ د ملت ستره ورکه ده او دا ورکه په همدې وطن کې له همدې ولس او خلکو سره ده، نو راځئ چې دا ورکه بېرته را پیدا کړو، ترڅو زوړ او نوی ښکېلاک دواړه د سولې په تېره وسله د افغانانو له وطن او سرنوشت نه لرې کړو.

لکه څرنګه چې آزادي اخیستل قرباني غواړي، تر هغې زیات د وطن جوړونه، سوله، پرمختګ او د یو بل په مقابل کې زغم سر ښندنې او قربانۍ ته اړتیا لري، نو لومړی تر ټولو د ملي وحدت حکومت باید په دې لاره کې قرباني ورکړي او په ریښتینې توګه د ملي یووالي لپاره کار وکړي او د دې پرځای چې د امریکا او بل لمنې ته ځانونه غورځوي، د خپل ولس سره ځانونه پر خبره پوهه کړي او نور د خپلو غوښتنو لپاره هېواد او ملت قرباني نه کړي. ترڅو راتلونکی په ریښتیا د افغانانو شي او خپل راتلونکی په خپله خوښه وټاکي.

دهمدې ورځې په هیله!

ژوندی او سرلوړی دې وي افغانستان او هغه افغانان چې په ریښتینې توګه د هېواد او خلکو په درد دردمن دي.

افغانان ځوانان

ستونزې او د حکومت ناغېړې

اصلاح رسنیز گروپ/ نعمت الله عزیزي

ځوانان په ټولنه کې د بدلونونو، انقلابونو، غورځنګونو او تاریخي پېښو اصلي لوبغاړي بلل کېږي او د نړۍ په هر هېواد کې ورته ځانګړې پاملرنه ځکه کېږي چې د ټولنې دا برخه د یو فعال ځواک په توګه پېژندل کېږي چې په همدې بنسټ یې په ښې روزنې ډېره پانګونه هم کېږي.

افغانستان هم چې د نړۍ په نقشه کې یو تاریخي او د تاریخ په پاڼو کې د ځواکمنو هېوادونو او غورځنګونو د زور آزمایښي مرکز پاتې شوی دی، د وګړو ډېره برخه یې له ۳۵ کلونو د کم عمر خلک جوړوي، خو دلته د ټولنې د نورو برخو په څېر د تېرو څلورو لسیزو ناخوالو هر څه ځپلي چې ځوانان هم د هغې یو برخه دي.

د نړۍ په کچه دویم ځوان وګړي لرونکي هېواد افغانستان کې ځوانان تر هر چا ډېر د ناخوالو ښکار دي؛ په دوامداره جګړو کې دواړو خواوو ته ځوانان له منځه ځي، له فقر، بېکاری، بې سوادی، ټولنیزو، فرهنګي او سیاسي ستونزو کړیدل، په مناسب وخت کې د واده کولو توان نه درلودل، د مجبوریت پر بنسټ په سختو لارو نورو هېوادونو ته تلل او بلاخره د پټ او وژونکي دښمن (نشه ای توکیو) په پنجو کې غورځیدل په افغانستان کې د ځوانانو لپاره ګواښوونکي ټکي دي.

د نړۍ د نورو هېوادونو په څېر په افغانستان کې هم که نظامونه بدل شوي، انقلابونه رامنځته شوي، او یا هم د آزادي لپاره سرونه ورکړل شوي لویه برخه یې ځوانانو په ځان منلي، خو په مقابل کې بیا ورته د هر مشر او سیاستمدارانو له خوا ژمنې ورکړل شوې او یوازې د ژمنو په کچه پاتې شوې چې هیڅکله یې عملي بڼه نه ده خپله کړي هغه څه چې ډېری ځوانان یې د ملي یووالي حکومت د مشرانو په هکله هم څرګندوي.

د ملي یووالي حکومت مشرانو په خپلو کمپاینونو کې د ډېرو نورو ژمنو تر څنګ د ځوانانو د ژوند ښه کېدو، ځوانانو ته د کاري زمینو برابرولو، نشه ای توکیو پر وړاندې د کلکې مبارزې او په حکومت کې ورته د ډېرې ونډې ورکولو ژمنې کړې وې، سره له دې چې په ملي یووالي حکومت کې تر یو بریده په بېلابېلو څوکیو ځوانان ګمارل شوي او ځینې یې په بهرنیو هېوادونو کې هم د دیپلوماتانو په توګه ماموریت تر سره کوي خو نیوکه دا ده چې اوس هم ځوانان په ادارو کې له فساد، له نشه ای توکیو، بېکاری او نا امنیو له سترو ګواښونو سره مخ کړي دي.

تېره شنبه (د اګسټ ۱۲) چې د ځوانانو د نړیوالې ورځې سره یې سمون درلود، افغان ولسمشر محمد اشرف غني په ارګ کې په دې مناسبت جوړې شوې غونډې کې د ځوانانو له سرښندنو یادونه وکړه او په حکومت کې یې د ځوانانو پر رول هم ټینګار وکړ. ښاغلي غني همدارنګه له ځوانانو وغوښتل چې خپل استازي په منظم ډول د وزیرانو شورا غونډو ته واستوي او په مستقیم ډول خپلې ستونزې له چارواکو سره شریکې کړي.

په کړکیچونو کې را ګېر ځوانان!

په افغاني ټولنه کې ځوانان د نورو برخو په څېر په جګړه کې د له منځه تګ نیولې بیا تر بېکاری، فقر، په نشه ای توکیو روږدتیا او بهرنیو هېوادونو ته په سختو لارو تګ پورې له سختو ستونزو سره لاس او ګریوان دي. هر حکومت هم په افغانستان کې ځوانانو ته د کار زمینې برابرولو او ورته د پاملرنې خبره کړې چې د ملي یووالي حکومت هم له هغې ډلې دی، دا چې رښتیا هم په ملي یووالي حکومت کې د ځوانانو رول او نقش څنګه څه ډول دی آیا ځوانانو ته پاملرنه شوې ده؟

د مسلمانو ځوانانو بنسټ (نجم) مشر محمد مدثر اسلامي وایي: «د نوي حکومت له جوړیدو راهیسې، ولسمشر ګنې شمېر ځوانان د وړتیا له مخې د حکومت په لوړو چوکیو ګمارلي چې ښه لاسته راوړنه ده؛ خو د هیواد د ۶۸.۵ (د ملګرو ملتونو د احصایې له مخې له ۳۰ کلنې څخه د ټیټ عمر لرونکو افغان) وګړو په نسبت دا بدلونونه ډېر کم دي.»

د ښاغلي اسلامي په وینا ځوانان اوس هم په ګڼو (ښوونې او روزنې، کارموندنې او حقوقي

مشارکت) په برخو کې له ډېرو ستونزو سره مخ دي او اوس هم ځوانان د افغاني ټولنې ډېره زیان منونکې برخه جوړوي.

د نجم مشر د حکومت مشران ځوانانو ته د کارموندنې په برخه کې هم بریالي نه ګڼي او باور لري چې د ځوانانو د ستونزو د حل لپاره ډېرو هڅو او کارونو ته اړتیا ده.

له بل لوري د ځوانانو په پارلمان کې د غور استازې رابعه احمدي وایي: هغه ژمنې چې ولسمشر د کمپاینونو په وخت کې کولې -چې ځوانانو ته د کار زمینې برابروي او د ځوانانو لپاره یو ځانګړی وزارت جوړوي- دا ټول شعارونه وو. او د آغلې احمدي په خبره ځوانانو ته په هغه ډول چې باید پاملرنه شوې واي توجه نه ده شوې چې له همدې املې ډېر ځوانان مجبور شول د کاروبار او یا هم بڼه ژوند په خاطر نورو هېوادونو ته کډه شي.

آغلې رابعه احمدي په ملي یووالي حکومت کې د ځوانانو له ونډې هم نا خوښه ده او باور لري چې هغه څه ځوانانو ته نه دي ورکړل شوي چې ژمنه یې شوې وه، که ځوانانو ته پام هم شوی ډېر محدود او د ګوتو په شمېر ځوانانو ته په دولتي ادارو کې صلاحیت ورکړل شوی دی.

د ځوانانو په پارلمان کې د غور ولایت استازې همدارنګه باور لري چې ځوانانو کې بڼه کدرونه شته او په لوړه کچه وړتیاوې هم لري، خو ورته د کار زمینه نه برابریدل ځوانان مجبوروي چې نشي ای توکیو ته مخه کړي او په ټولنه کې ستونزې رامنځته کړي.

رابعه احمدي ټېنګار کوي چې باید په افغانستان کې د تقاعد موضوع هم په جدي توګه تعقیب کړل شي تر څو مشران تقاعد شي او په خالي پوستونو باندې ځوانان کار وکړي. چې د آغلې احمدي په وینا په دې برخه کې هم ولسمشر ژمنې کړې وې خو تر اوسه عملي شوې نه دي.

ځوانان او درانه مسؤولیتونه:

دا چې ځوانان په افغاني ټولنه کې ستره کتله ده او له ډېرو ستونزو سره هم لاس او ګریوان دي له دې ستونزو د وتلو لپاره او د خپلو حقوقو لاسته راوړلو لپاره خپله ځوانانو تر کومه خپل مسؤولیت اداء کړی او تر منځ یې همغږي شتون لري؟

د مسلمانو ځوانانو د بنسټ مشر محمد مدثر اسلامي د ځوانانو تر منځ د همغږۍ د نشتون څخه هم سر ټکوي او وایي: «وروستیو ۱۵ کلونو کې د ځوانانو ډیرې ټولنې ثبت شوي دي، خو له ۵۰ سلنه ډیرې یې فعالیت نه کوي او ځوانان تر ډیره د اړونده ننګونو په تشخیص او د حل لپاره یې د پاملرنې او مرستو جلبولو کې پاتې راغلي دي.»

د بڼاغلي محمد مدثر په اند د ځوانانو د ټولنو تر منځ د لازمي همغږۍ کموالی او یا هم مخالفتونه د دې لامل شوي چې د ځوانانو په برخه کې د یوې لویې اجنډا پر ځای کوچنیو او شیندلو موضوعاتو ته کار وشي چې دا بیا د ځوانانو د ستونزو په حل کې ډېر اغېزمن نه ثابتېږي.

د ځوانانو په پارلمان کې د غور استازې رابعه احمدي هم په دې اند ده چې ځوانان تر ډېره د خپل راتلونکي لپاره هڅې کوي او غواړي ځانونه ورسوي تر څو د سبا ورځې لپاره ټولنه رهبري کړي او د دې بڼکاره ببلګه د بهرنیو هېوادونو له خوا د اعلان شویو تحصیلي بورسونو پسې ګرځیدل او هڅې کول دي.

آغلې احمدي باور لري چې ځوانان په ټوله کې بڼه چمتووالی لري او د ځوانانو پارلمان جوړیدل او د ځوانانو لپاره آزمایښتي دوره پرانیستل بڼه ګامونه دي چې ځوانان یې سره نږدې کړي او د ببلا ببلو کمیټو له لارې د ځوانانو د ستونزو د حل لپآره هڅې کېږي.

رابعه احمدي زیاتوي له ولسمشر او اجراییه رییس سره په لیدونو کې ټېنګار دا کېدلو چې د ځوانانو ستونزې مشخصې کړل شي او د حل لپاره یې هم حل لارې وړاندېز کړل شي. چې د آغلې احمدي په وینا ځوانانو دا کار کړي دی او د ستونزو د حل په موخه ګڼې طرحې وړاندېز شوي چې د اړوندو ادارو او وزارتونو تر څنګ به د دې طرحو کاپي ګانې ولسمشر او اجراییه رییس ته هم وړاندې کړل شي.

له ستونزو د وتلو لارې:

د حل لارې په توګه دا چې په ټولنه کې ځوانان ځانګړی ارزښت لري او له بلې خوا له ګڼو ستونزو او کړکیچونو سره هم مخ دی د یو ځوان په توګه خپله ځوانان او حکومت باید څه وکړي؟

د مسلمانو ځوانانو د بنسټ مشر محمد مدثر اسلامي وایي: «ځوانانو ته پکار ده چې د بڼه راتلونکي لپاره د کار کولو په ترڅ کې خپلې وړتیاوې درک کړي، د ځوانانو اړوند مسئلو څخه خبر وي، د مسئلو په اړه د ځوانانو افکار سره یو کړي، یوه لویه ډله جوړه کړي او د مثبت ټولنیز بدلون لپاره په دوامداره توګه تدریجي کار وکړي.»

بڼاغلی اسلامي په حکومت هم غږ کوي چې باید د ځوانانو لپاره د با کیفیته روزنې او زدهکړو زمینه برابره کړي او په بهلابهلو سکتورونو کې ورته په مختلفو کچو د مشارکت او ګډون لار هواره کړي.

د ځوانانو په پارلمان کې د غور استازې رابعه احمدي د ځوانانو د ستونزو د حل په موخه د ځوانانو د طرحو پر عملي کېدو ټېنګار کوي او باور لري چې که حکومت د ځوانانو طرحې عملي کړي د ځوانانو په حالت کې به مثبت بدلون راشي.

له بل لوري آغلې رابعه احمدي همدارنګه ګواښ کوي په داسې حال کې چې ځوانان ستونزې ګالي او ځانونه د هېواد خدمت ته چمتو کوي، خو که د مشرانو له لوري ورته پام ونشي، امکان لري ځوانان نا هیلي شي او د خپلو دیپلومونو او تحصیلي سندونو سره نورو هېوادونو ته کډه شي، او یا هم د یونان په اوبو کې غرق شي او یا یې هم برخلیک د پل سوخته او نورو پلونو لاندې پورې ورسېږي.

د یادولو ده چې په تېرو دوه کلونو کې د نا امنیو او بېکاریو د زیاتیدو له کبله لسګونه زره ځوانان له افغانستان څخه ځینو اروپایي هېوادونو ته په خطرناکو لارو ځانونه ورسول خو ځینې یې بیا په اوبو او ځنګلونو کې د ماهیان او ځناورو خوراک هم شول دا په داسې حال کې ده چې د ملګرو ملتونو د نفوسو د صندوق د شمېرو پر بنسټ افغانستان په نړۍ کې دوهم ځوان هېواد دی.

به مناسبت نود و هشتمین سالروز استرداد استقلال افغانستان

گوشه‌ای از قهرمانی‌های مجاهدین در جبهه‌ی جنوب کشور

محمد معروف فروغگر

تاریخ تکرار میشود، امروز که ما هر چند جستجو میکنیم، اوراق تاریخ را ورق می زنیم، به جستجوی منابع تاریخی می پردازیم، منبعی نداریم که قهرمانان راستین جهاد مقدس ملت ما علیه قشون متجاوز و اشغالگر انگلیس را نام گرفته، طور مختصر یا مفصل بما معرفی کند، در حالی‌که ملت مجاهد ما بیشتر از یک قرن با استعمار جهان‌خوار انگلیس در نبرد بود، بجز افراد انگشت شماری -که آن هم دستگاه حکومات وقت افغانستان طوری نام های ایشان را در لیست تاریخ سازان گرفته اند که جلو منافع استبداد شان را در حال نبود گرفته نمی توانستند- دیگر همه قهرمانان تاریخ ما سپاهیان گم‌نام اند که اثری از ایشان در ردپای تاریخ سراغ نمی‌گردد.

گفتیم تاریخ تکرار می‌شود، اگر در آن زمان سطح دانش ملت ما پایین بود و یا عوامل دیگری وجود داشت که قهرمانان تاریخ ما، بلکه بر قهرمانان تاریخ امت اسلامی خاک فراموشی انبار کند، امروز شرایطی برای ما آماده است که حتی بتوانیم مجاهدان قهرمان ما را در اوراق خونین جهاد و مبارزه مان علیه استعمار روس ثبت تاریخ نماییم.

ما در نبرد مجاهدان با انگلیس‌ها خواندیم که قوای پانزده هزاری انگلیس از بت خاک تا تنگی ابریشم بجز از داکتر برایدن که تا جلال آباد رسید دیگر همه سپاه انگلیس که پانزه هزار نفر را شامل می‌گردید طی حملات طوفانی مجاهدان ما نیست و نابود شدند اما اگر از اول ماجرا تا آخر آن اوراق تاریخ را زیرو رو کنیم، بجز از وزیر محمد اکبر خان -که وی قوای انگلیس را بخاطر مشایعت می‌کرد که در طول راه مورد حمله قرار نگیرند- دیگرنام هیچ مجاهد ثبت تاریخ ما نیست! آیا مایه‌ی تاسف و تعجب نیست که پانزده هزار لشکر دشمن در یک تنگی کشور از بین می‌ردو و با وسایل مجهز جنگی اش تار و مار می‌گردد، اما کسی که آنها را به این روز دوچار ساخته است معلوم نیست که چی کسی بود؟ به کدام قبیله تعلق داشته و اندوخته های علمی و نظامی‌اش تا چی حد بود و در تاریخ از وی چه درسی آموخته می شود؟ در بابت این همه پرسش‌ها تاریخ ما گنگ است، بنأ قبل از آن که در قلب گرم یک معرکه‌ی جهادی علیه انگلیس‌ها داخل شویم و شما را بخوانش آن فرا خوانیم، تقاضایم از قاطبه قلم بدستان ملت مومنم اینست که اکنون نیز شرایط آن آماده است که قهرمانان تاریخ جهاد کفر شکن مان را ثبت اوراق تاریخ نمایند که خدا ناخواسته این قهرمانان نیز چون جنگ آوران مجاهد دوران سلطه انگلیس بباد فراموشی سپرده نشوند.

حالا بر می گردیم به صحنه یی از جهاد استقلال کشورعزیزمان افغانستان مجاهد پرورکه در ابعاد گسترده تاریخ شخصیت های مومن و مجاهدی را در دامانش پرورده است که، ثانی ایشان در جهان کمتر بنظر میخورد.

اعلان استقرار حکومت امانی در افغانستان توأم بود با اعلان جنگ و استقلال افغانستان از قشون اشغالگر انگلیس، به تاسی اعلان -گرچه قبل از این اعلان نیز مجاهدان افغان در شمال و جنوب و جنوب غرب و جنوب شرق و شرق افغانستان با قوای اشغالگر انگلیس مصروف نبرد بودند، اما اعلان استقلال روحیه جدید را در مورال مجاهدان افغانستان دمید-

در جبهه‌ی جنوبی که مجاهدان افغان تحت قوماندهی سپه سالار محمد نادر خان جمع شده بودند، متشکل از صاحب منصبان نظامی، مجاهدان منطقوی، شخصیت‌های برجسته ملی، علما، مشایخ و صوفیان نامی کشور -که درین جا ذکر نام بعضی از آن‌ها را مناسب می‌بینیم- بودند.

سرادر شاه ولی خان، سردار شاه محمود خان، مبارکشا خان، دگروال پنین بیک خان، جنرال آقا محمد خان، یاور لوگری، شمس المشایخ فضل محمد خان مجددی، آخنزاده صاحب موسهی، حاجی عبد الرزاق خان اندر، قاضی عبدالرحمن خان پغمانی (که بعدها در مخالفت با از بین بردن حجاب در اوج قدرت امان الله خان به اعدام محکوم شد و به این ترتیب به درجات عالی شهدات نایل آمد)، ملا صاحب اتمانزی، مولوی صاحب فضل ربی، ملا عبدالحمید خان غزنوی و.....

در ۲۴ اپریل ۱۹۱۹ طبل جنگ نواخته شد و از هر گوشه و کنار کشور مجاهدان کفر شکن افغان بحرکت آمدند و در جبهه‌ی پکتیا نیز طبق معمول صاحب‌منصبان عسکری، معززین اقوام و قبایل،علما و مشایخ،

جوانان مجاهد، گروه گروه به عزم جهاد علیه انگلیس جمع شدند، این تجمع تا ۱۴ می ۱۹۱۹ ادامه داشت، در همین تاریخ در حالی‌که سپه سالار جنگ در بالاحصار گردیز روی نقشه جنگ کار می‌کرد که مجاهدان قوم (مسعود) بریک قافلهٔ دشمن حمله کردند و قشلهٔ عسکری سروکی را مورد هجوم قرار دادند، این قافله که مشتمل بر ۷۵ اشتر و چندین اسب و قاطر بود و از مهمات جنگی و مواد خوراکی بار بود به غنیمت در آمد، به تعقیب آن مجاهدین قبیله (تنی) ارتباط تلفونی و تلگرافی داشمن را به استقامت (تل) و (وانه) قطع نمودند و گروپ‌های چریکی مجاهدین ۲۲۰ اشتر دشمن را که با مواد خوراکی بار بودند، به غنیمت گرفته و شتران را به عقب جبهه سوق دادند. مجاهدان قبیله (مسعود) با اعلان جنگ قشله عسکری (وانه) را به محاصره کشیدند. مجاهدین خوست به استقامت (پیوار) در حرکت افتادند، و در عین زمان جبهه بندی مجاهدین آغا یافت و سپه‌سالار جنگ موقعیت قبلی‌اش را ترک نموده به سوی (سپین دام) براه افتاد.

سردار شاه ولی خان با نورالمشایخ محمد عمر مجددی در جبهه وزیرستان مصروف ماند، سردار شاه محمد با لشکر مجاهدین به جبهه پیوار گماشته شد .

جنگ در تمام جبهات به شدت آدامه داشت و مجاهدین توانستند که در مدت یازده روز۲۵ می ۱۹۱۹ (قشله وانه) را تسخیر نموده و قوای انگلیس را تا آخرین تن از دم تیغ بکشند. (تل) که قلعه‌ی استراتژیک دشمن بود و جبهات دیگر را با همدیگر پیوند می‌داد و مرکز قومانده انگیسی‌ها پنداشته می‌شد از طرف مجاهدین به محاصره کشیده شد، راه آهن کرم را قطع کردند و از چند سو قشله (تل) را مورد بمبارد توپخانه قرار دادند، مردم شهر را به عقب جبهه نقل دادند و خود در حومه‌های شهر مستقر گردیدند و بر قشله (تل) پی در پی آتش می‌کشودند. مجاهدان افغان در عین زمان متوجه شدند که باید گدام غله (خوراکه) انگلیس‌ها را حریق نمایند، دسته‌ی خاصی برای اجرای این ماموریت گماشته شد که توانست با گلوله‌های آتشین توپ گدام غله قوای انگلیس در (تل) را حریق نماید. انگلیس‌ها چاره‌ای نداشتند جز اینکه یا همه تسلیم شوند و یا هم کشته شوند، در همین شرایط حساس قومندان عمومی انگلیس دسته‌ای از عساکر جنگ آزموده اش را به قومانده جنرال دایر به منطقه‌ی (تل) فرستاد، اما وی نیز نتوانست محاصره را بشکند، بلکه با شکست فضیحی مواجه شد و بسوی (متون) عقب نشینی نمود. در قشله عسکری (تل) همچنان مقاومت جریان داشت، در این زمان جنرال (پنین یک خان) که در آن زمان رتبه دگروالی داشت و در عقب جبهه مصروف درست نمودن کارهای دیگر بود، به سپه سالار پیشنهاد کرد که به وی اجازه پیشروی بسوی قشله (تل) را بدهد، پشنهاد وی پذیرفته شد و با چندین گروپ مجاهدین، صاحب منصب و عسکر و جوانان داوطلب قشلهٔ تل را مورد هجوم قرار داد و بزودترین فرصت -که دو روز را در بر نگرفته بود- قلعه تل را فتحه نمود و بر فراز آن بیرق پر افتخار افغانستان را به اهتزاز درآورد.

مجاهدان افغان در جبهات قندهار، وزیرستان، ژوب، پیشین، (تل وانه) با مورال بلند، بعضاً قطعات دشمن را نابود کرده بودند و بعضاً در حالت پیشرفت و جبهات هم در حالت جنگ با دشمن بودند، که در ۲۴-۲۶می متارکه جنگ (آتش بس) از طرف طرفین جنگ اعلان شد، با وصف آن هم مجاهدین افغان به دل‌گرمی تمام علیه قوای انگلیس می‌جنگیدند و در داخل پشاور و مردان و چترال و خیبر نیز مجاهدین آفریدی، وزیری و غیره به سرپرستی علما و رهبران قومی‌شان جابجا قوای انگلیس را مورد حملات شان قرار داده بودند، و قرار به آن بود که قوای افغان به کمک برادران مجاهد قبایلی شان تا (سند) پیش‌روی نمایند.

(جنرال پنین بیک خان) اعلان نمود که هدف بعدی ما تا سند است، قوای انگلیس را باید از سند نیز اخراج نماییم، اما آتش بس کمر مجاهدین افغانی را شکست و مجاهدان افغان را از پیش‌رفت باز ماند.

اگر این اشتباه رخ نمی‌داد مجاهدین مورال قوای انگلیسی را آنقدر ضعیف ساخته بودند، که در هیچ یک جبهه‌ی جنگ دست آوردی نداشتند و یک نواخت شکست می‌خوردند و تلفات می‌دادند. طبق قول یک مؤرخ انگلیس، اگر این متارکه صورت نمی‌گرفت قوای حربی افغان تا قلب هندوستان می‌رسیدند و دور نبود که کمپنی هند شرقی هندوستان را -که همانا مرجع تصمیم گیری انگلیسی‌ها در رابطه به توسعه طلبی آنها بود- ترک نموده و افغان‌ها آنرا اشغال نماید و به این ترتیب این حماسه بزرگ به یک متارکه عجولانه در نیمه راه ناکام ماند، طوریکه مجاهدین افغانستان در جنگ با روسها و اذناب آنها بعد از ۱۴ سال و اندی به پیروزی رسیدند، اما جنگ‌های داخلی و جنگ‌های احراز قدرت جلو پیشروی انقلابی را گرفت که شاید تا قلب روسیه به پیش می‌رفت. ارتکاب این اشتباهات بود که ما را چندین سال از کاروان تمدن به عقب راند و مشکلاتی فرا راه جنبش ما ایجاد نمود، که شاید نسل‌های آینده ما نیز در رفع نمودن آن عاجز آیند. باز هم سر وقت است افغان‌ها همین اکنون اوتوریته و ظرفیت آن را دارند که بدون قیمومیت و وصایت بیگانگان گرد هم جمع آیند و اشتباهاتی را که طی گذشته‌ها تکرار نموده اند جبران نمایند و در افغانستان نظامی را بوجود بیاورند که هم استقلال ملی ما تأمین شود و هم وحدت اسلامی و جهادی ما و هم حکومتی در افغانستان بوجود بیاید که ضامن پیروزی فرد فرد ملت افغانستان بر مشکلات موجود و آینده باشد (به امید آن روز).

منبع: ماهنامه‌ی مستقبل (سال سوم - شماره‌ی ۳ - ماه اسد سال ۱۳۷۹شمسی)

اشک‌هایی که کمتر ریخته‌ایم!

رخسار فرحت

آغاز این مقاله را با اشک کرده ام؛ چون این واژه مفهوم همان دردی است که در طول عمر خود با آن برمی‌خوریم و این واژه را تجربه می‌کنیم. البته که مرواریدهای چشمان مان فرو آمده و اشک ریزانده ایم. پیرامون اشک از وقت، زمان، مکان، مدت و اندازه اش، مهم‌تر دلیل آن است.

بسیاری برای موضوعات دنیوی چون مشکلاتی که در زندگی شان به آن رو به رو می‌شوند، به‌خاطر پول، جاه و جلال و سلطنت و به‌خاطر از دست دادن عزیزان شان اشک ریخته اند؛ اما خوش‌بخت‌ها؟ اشک ندامت و پشیمانی از گناه ریخته اند.

بلی! پروردگارم مرا نیز لایق بودن در جمع همان خوشبخت ها دید.

من هم از جمله کسانی ام، که اشک ندامت ریخته ام! در روی زمین در میان تمامی ابیات، شعر ها، آهنگ ها، نغمه‌ها و فریادها، این دو بیتی درد دلم را افاده کرده می‌تواند، آه و سوز جگرم را بازگو کرده می‌نماید، حس درونی‌ام را بیان می‌کند و مرا بیش‌تر با خود و اطرافیانم آشنا می‌سازد.

اشکی اگر چکیده ام از هجر کس نبود
اشکی اگر چکیده ام اشک ندامت است
لبخند سرد و بی نفس هر دم دلم شکست
دنیای چهره روشن و بر دل قیامت است

از تمامی افرادی که در زندگی شان درد و رنج کشیده اند و اندوه و دلگیری را تجربه کرده اند، می‌پرسم: آیا از لبخندهای سرد که هر وقت به‌خاطر دیگران می‌زنید خسته نشده اید؟ به‌خاطر این‌که مردم نگویند که او چرا گریه می‌کند؟!.

به‌خاطر خسته شدن از سوال‌های مردم چند بار لبخند دروغین زده اید؟ برای این‌که مردم در پشت سر تان تجسس و غیبت نکنند، چند بار لبخند سرد و بی نفس زده اید؟ و یا به‌خاطر فریب دادن دیگران و حتا خود تان چند بار این کار را انجام داده اید؟ بیایید با هم صادق باشیم حسی که به‌خاطری نداشتنش بارها اشک ندامت ریخته ایم، نه تنها به‌خاطر صادق نبودن با دیگران؛ بل به‌خاطر صادق نبودن با خود مان! گرمی آتش قلب مان از چند کیلو متری اش حس می‌شود اما ما لبخندهای سرد می‌زنیم جگرهای مان پاره پاره می‌شود اما مثلی ابله ها که هیچ اتفاقی نیافتاده است رفتار می‌کنیم

قیامت قلب‌مان را پنهان می‌کنیم در حالی‌که در قلب‌های مان محشری جاری است و هر لحظه گلوی ما را گرفته نفس ما را تنگ می‌کند، محشری که در قلب‌های مان جاری است به‌خاطری مشکلات، فراز و نشیب‌های زندگی ما نیست، به‌خاطر اشخاصی نیست که از دست داده ایم، به‌خاطر کمبودی‌های شخصیت و زندگی ما نیست؛ بل به‌خاطر ترس و وحشتی‌ست که مثل خزنده‌ای درهر لحظه و هر ثانیه در قلب‌مان می‌خلد.

این ترس همان ترسی است که بعد از انجام دادن گناهان بی‌شمار، بیکران قلب‌های مان را احاطه کرده است. این سوال را قبل از پرسیدن از دیگران از خودم می‌پرسم که چرا این ترس قبل از انجام گناه در دلم نبود با وجود آنکه از گناه بودن آن، از عذاب آتش و حقارت‌اش خبیر و آگاه بودم.

اگر این ترس از نخست در دلم می‌بود، این‌قدر غرق در گرداب و ورطه‌ی گناه نمی‌شدم. گناهان زیادی مرتکب شده ام من‌جمله شکستاندن قلب کسی قلب اشخاصی زیادی را شکستانده ایم، حتا به تکرار! بارها خود مان باعث شکستن قلب خود شده ایم و تقصیر را بر سر دیگران انداخته ایم؛ کاری که در این دنیا همه بلدند. در طول عمر همیش خواستار درک مان از سوی دیگران بوده ایم؛ اما یک بار خود مان خود را درک کرده ایم؟ در دنیا هراتفاقی که برای مان میافتد مقصر خود ما هستیم نه دیگران.

قلب‌های که پارچه پارچه اند، کوشش پایان دادن به رنج‌هایش را کرده ایم؟ یکجا کردن توته‌هایش را امتحان کرده ایم؟ نخیر! چون این کار بس مشکل است غلظت این کار صبری فراوان نیاز دارد که ما آن صبر را نداریم.

اشتباهات زیادی انجام داده ایم، گناهان زیادی مرتکب شده ایم؛ اشتباهاتی که فکرش را هم نمی‌کردیم مرتکب شده ایم، گناهان بی‌شمار. اگر بخواهیم گناهان مان را حساب کنیم، کاری ناممکن است چون شمارش گناهان امکان پذیر نیست.

بلی! انسانی هستم گناه کار، سنگ دل و خشن؛ با چشم امید به هر سو می‌نگریستم، اما گناه‌کار تر از خودم پیدا کرده نتوانستم و روزی برای خودم گفتم: که چرا چشم به این امید بی معنا بدوزم؟ شاید نه! چون من زیادتر از اسمم به این که من گناه‌کار ترین انسان این کره‌ی خاکی ام، معتقدم!

بلی! منم گناه‌کارتر از همه؛ اما دروازه‌ی رجوع، توبه، رحمت و حتا درهای بهشت به‌سوی من نیز باز است.

امروز دیگر چشم امید برای پیدا کردن کسی گناه‌کارتر از خودم نمی دوزم؛ حالا با چشم امید به هر سو می‌نگرم تا بخشیده شده‌گان را ببینم، امید داشتن را ببینم، با امید پیدا کردن آشنا شوم و یاد بگیرم، رحمت را ببینم و اشک‌های ندامت را!

دلم می‌خواهد از گناهانم فریاد بزنم؛ چون بار این گناه‌ها بسیار سنگین است امروز به اوراق کاغذ و آیینه و ابر و باد و خورشید و ماه و حتا به مادر و بهترین دوستم نه؛ بل به زیباترین و شنواترین ذات به پروردگارم فریاد می‌زنم.

پروردگارا! فریاد به‌سوی تو می‌زنم؛ چون می‌دانم که تو شنواتر و دانا تر از همه هستی چون تو بهترین غم‌گساری و غم‌هایم می‌زدایی.

خداوندا! اگر باران چشمانم بارها باریده است، قلبم بارها شکسته است، نفسم بارها تنگ شده است، قلبم سوخته و آتش گرفته و گناهانم لبریز شده است؛ اما باز هم با دست‌های سیاه و آلوده با گناه با قلب سیاه و پر از گناه به‌خاطر باور داشتن به رحمت بی منتهای تو، امید بخشیده شدن را دارم و به همین خاطر است که رجوع دو باره و چنده باره کرده توبه می‌کنم و از تو می‌طلبم:

خدایا! به فریادهایم گوش ده این را می‌دانم که فریادهایم به گوشت می‌رسد، می‌دانم که گرمی تپش قلبم را حس می‌کنی و اشک‌های ندامت و پشیمانی ام را می‌بینی و حس پشیمان بودن و توبه کردنم را درک می‌کنی، پس خداوندا! به دادم برس و آتش قلبم را خاموش بساز! با وجود گناهانم، اشتباهاتم چشم امید به درگاه تو دوخته ام! چون من به رحمت، برده باری، صبر و عفو و کرمت باور دارم.

مثلی پرنده ای هستم که بال‌هایش شکسته است؛ خداوندا! مرا به عظمت و بزرگی‌ات عفو کن. با تمامی وجودم توبه می‌کنم، از اعماق قلبم توبه می‌کنم، از همان‌جایی که مرا به‌سوی گناهان سوق داده است توبه می‌کنم من تا آخرین نفسم منتظر بخشیده شدنم خواهم بود و با گذشت هر روز زیادتر از قبل، از گناهانم پشیمان خواهم بود. ببخشی‌ام پروردگارا!

آیا پر فیس بوک رویږدي، ناروغان دي؟

ټولونه او ژباړه: کامران ملک

د نـوي تحقيـق لـه مخـې اوسـمهال ۳۵۰ ميليونـه انسـانان -کـوم چـې فيـس بـوک اسـتعمالوي- د فيس بـوک رويږدي ناروغـي يـا Facebook Addictive Syndrome (FAD) درلودونکـي دي.

هغـه وګـړي چـې د لانـدې خصوصياتـو څخـه ۳/۲ ولـري پـر دې ناروغـي اختـه دي:

۱- تحمل (Tolerance) :

د دې نښـې درلودنکـي د فيـس بـوک اسـتعمالونکي اکـثره ناخـوښ برخـورد کـوي، زيـات وخـت پـه فيـس کـې تيـروي او لـه دې لارې خپـل تسـکين او خوشـالي تراسـه کـول غـواړي، دا عـادت کيـدای شي دوی تـه پـه راتلونکـي کـې ډيـر زيانمـن تمـام شي.

۲. په شاتللو يا بيرته اخستلو نښې:

دا نښـه د فيـس بـوک هغـو کارونکـو کـې تـر سـترګو کېـږي چـې د ورځنيـو کارونـو لـه املـه د څـه وخـت لپـاره د فيـس بـوک لـه اسـتعمال څخـه محـروم پاتـې کيـږي، نـو لـدې املـه پـه يـاد شـخص کـې لانـدې نښـې ليـدل کېـږي: تشـويش، زړه تنګـي، هـر ځـای کـې د فيـس بـوک پـه هکلـه بحثونـه کـول او دده پـه نـه موجوديـت کـې بـه پـه فيـس بـوک کـې څـه نـشر شـوي وي، پـه دې اړه فکـر.

۳. په ټولنيز او عادي ژوند کې چټک بدلون:

دا نښـه پـه هغـه خلکـو کـې ليـدل کيـږي چـې د فيـس بـوک د اسـتعمال لـه املـه خپـل کورنـۍ، دوسـتانو او خپلوانـو سره ناسـته، تفريـح او يـا ورزش کولـو کـې چټـک کمښـت راولي او د خپـل کورنـۍ سره د ناسـتې پرځـای پـه فيـس بـوک کـې يـو څـه ليکـي، دوسـتانو سره د ليدلـو پرځـای پـه فيـس بـوک کـې چـاسره چيـټ کـوي، د تفريـح او ورزش پرځـای چـاسره فيـس بـوک کال کـوي. ترټولـو خطرناکـه خـبره دا ده چـې داسـې وخـت بـه هـم د يـادو نښـو درلودونکـو خلکـو بانـدې راشي چـې پـه فيـس بـوک کـې د مصروفيـت لـه املـه بـه د خپلـې کورنـۍ د مبايـل زنګونـو تـه هـم ځـواب ورنکـړي.

۴. په خيالي نړۍ کې ژوند:

يـاد اشـخاص د دې پرځـای چـې د خپلـې کورنـۍ يـا دوسـتانو سره پـه چکـر لاړ شي او هغـوی سره ناسـتې ولـري، دوی بيـا هڅـه کـوي چـې دا کار هـم د فيـس بـوک لـه لارې وکـړي او فکـر کـوي چـې مجـازي ناسـتې د حقيقـي ناسـتو ځـای نيـولای شي.

۵. جعلي ملګري:

د يـاد خلکـو د فيـس بـوک لـه ۱۰ ملګـرو څخـه ۸ جعـلي وي او دوی يـې نښـه پيژنـۍ هـم نـه، کـه تاسـې سره هـم همداسـې کيـږي نـو پـوه شـئ چـې د فيـس بـوک رويږدي ناروغـان ياسـت.

۶. بشپړ رويږدي توب:

کلـه چـې دوی لـه نويـو خلکـو سره مـخ شي، نـو هغـوی تـه وايـی چـې پـه فيـس بـوک بـه سره خـبری کـوو، پـه دوی کـې بيـا ډيـر افـراط کونکـي بيـا وايـی چـې پـه فيـس بـوک کـې بـه سره وګـورو. دوی کـه د خپـل فيـس پرمـخ يـو لايـک، کمنـټ او يـا د دوسـتۍ درخواسـت تراسـه کـړي، نـو ډيـر ورتـه خوشـالېږي او کـه پـه کـوم پوسـټ يـې کـم لايکونـه يـا کمنټونـه راشي، نـو خفـه وي، حتـی کـه نښـه پوسـټ هـم وي، نـو ځنـې يـې لـه فيـس بـوک څخـه لـرې کـوي، ځکـه چـې لـږ لايکونـه يـې اخسـتي دي. کلـه چـې يـو پوسـټ وکـړي نـو د هغـې لايکونـه پـه تکـراري توګـه چيـک کـوي، ترڅـو وګـوري چـې چـا يـې پوسـټ خـوښ کـړی. دغـه خلـک حتـی تـر بيـده کيدلـو پـوري پـه فيـس بـوک کـې مصروفـه وي او چـې کلـه لـه خوبـه راويـښ شي، ترټولـو لومـړی کار يـې د خپـل فيـس بـوک کتـل وي. ځنـې يـې بيـا د ژونـد پـه مهمـو چـارو کـې هـم پـه فيـس بـوک بوخـت وي لکـه د خلکـو سره د ناسـتې او ډوډۍ خوړلـو پرمهـال، د موټـر چلولـو او پـه عامـه لاره د تللـو پرمهـال او داسـې نـور.

زياتـره خلـک پـدې انـد دي چـې فيـس بـوک پداسـې شـکل سره طرحـه شـوې چـې کيـدای شي لـه املـه يـې زيـات خلـک ددی ناروغـۍ ښـکار شي او پـه فيـس بـوک خپـل زيـات وخـت مصرفولـو ترڅنـګ خپـل اجتماعـي او کـورني روابـط هـم د دې د اسـتعمال لـه املـه زيانمـن کـړي.

د دې ناروغۍ بايد روغه درملنه وشي.

ترټولـو خطرناکـه خـبره خـو دا ده چـې زمـوږ ننـۍ ځوانـان خپـل ډېـر وخـت پـه همـدې شـيانو تېـروي، همیشـه انلايـن وي او د نـورو خلکـو اکونټونـو تـه وردا‌خليـږي او د هغـوی پروفايـل انځورونـه ګـوري او پـه شـخصي چيټونـو او فيـس بـوک زنګونـو خپـل زيـات وخـت ضايـع کـوي.

اوس پوښـتنه دا ده چـې پـدې هکلـه بايـد مـوږ څـه وکـړو؟ د يادونـې وړ ده چـې د دې سـتونزې درملنـه او لـه مينځـه وړل اسـانه کار نـدی، ځکـه چـې د نـړۍ پـه کچـه زيـات خلـک پـدې ناروغـۍ اختـه دي. د دې مشـکل پـه هکلـه تـر ټولـو لومـړی مسـؤوليت خپلـه د رويږدي دی، ترڅـو پـه خپـل ژونـد کـې تـوازن رامنځتـه کـړي او پـه هيـڅ کار کـې دومـره وخـت مـصرف نکـړي چـې دده اجتماعـي، کورنـۍ، تعليمـي او د ژونـد نـوری چـارې او اړخونـه يـې زيانمـن کـړي.

ددی ترڅنـګ د کورنـۍ مـشران مسـؤوليت لـري ترڅـو خپـل ماشـومان او ځوانـان ترڅارنـې لانـدې ونيسي او د فيس بـوک او انترنـت د زيـات اسـتعمال لـه اضرارو يـې د خبرولـو ترڅنـګ لـه هغـو وسـايلو، لکـه مبايـل، کمپيوتـر، ای پيـډ او نـورو لـرې وسـاتي چـې د يـادو اسـبابو اسـتعمال پکـې پـه اسـانه توګـه ممکـن وي. زمـوږ حکومـت او سياسـيون د دې پرځـای چـې پـه قصـدي توګـه پـه ميليونونـو افغانـی پـه اجتماعـي شـبکو د خپـل ځانونـو لپـاره د کمپايـن لپـاره ولګـوي، دهغـې پرځـای دې پـه عامـه منفعـت، انکشـافي پـروژو، خلکـو تـه د وظيفـو پـه پيـدا کولـو او د غريبـو لاسـنيوي کـې مـصرف کـړي او داسـې تدابيـر ونيـسي چـې د فيـس بـوک او اجتماعـي رسـنيو د زيـات اسـتعمال مخـه پکښـې ونيـول شي او ټولنـه مـو لـه هـر راز افـراط او تفريـط څخـه پاکـه پاتـې شي.

habibi@eslahonline.net

گلگرګهای ادب

فضایل ذی الحجه

در فضیلت و بزرگي ایـن دهه مبارك دلایلی بسیاري از قرآن و سـنت وارد شـده است:

١-الله سبحانه و تعالي مي فرماید:

{والفجر ولیال عشر} [الفجر/٢-١]

(قسم به سپیده دم و قسم به شب هاي دهگانه)

ابـن کثیر رحمـه الله در تفسیر خود مي گویـد: منظور از این ده شـب ده روز اول ذي الحجـه اسـت همانطـور که ابن عبـاس رضي الله عنهما و ابـن زبیـر ـ رضـی الله عنهـما ـ و مجاهـد و دیگـران گفتـه انـد. (رواه البخاري)

٢-و همچنـین از ابـن عبـاس رضي الله عنهما روایت اسـت کـه فرمود: رسـول الله ـ صـلي الله علیـه و آله وسـلم ـ فرمـود: «هیچ ایامي نیسـت کـه نـزد الله سـبحانه و تعـالي عمل صالـح محبوبـتر از این ایام باشـد» گفتنـد: و نـه حتـي جهـاد در راه الله؟ فرمـود: «ونـه جهـاد در راه الله مگـر شـخصي کـه بـا جان و مـال خود خـارج شـود و هیچ کدامشـان را برنگرداند».

٣- و الله سبحانه و تعالي مي فرماید:

{ویذکروا اسم الله في أیام معلومات} [الحج/٢٨]

(ونام الله را یاد کنند در روزهاي مشخص)

ابـن عبـاس رضي الله عنهـما در تفسـیر ایـن آیـت مـي فرمایـد: یعنـي روزهـاي دهگانـه ذي الحجـه)تفسـیر ابـن کثـیر(

٤- و از ابـن عمـر رضي الله عنهـما روایـت اسـت که رسـول الله ـ صلي الله علیـه و سـلم ـ فرمودنـد: «هیـچ ایامـي نیسـت کـه عمـل صالـح در آن محبوبـتر از ایـن ایـام دهگانـه باشـد؛ پـس در آنهـا بسـیار تهلیل (لا الـه الا الله) و تکبـیر (الله اکـبر) و تحمیـد (الحمدلله) بگوییـد» (رواه احمد)

٥-سـعید بـن جبیـر رحمه الله (راوي حدیـث دوم از ابن عبـاس) وقتي کـه دهـه ذي الحجـه داخـل مـي شـد تـا جایـي در عبـادت تـلاش مـي کـرد کـه توانـش بـه پایـان مـي رسـید. (رواه الدارمي)

٦-و همچنـین ابـن حجـر عسـقلاني در فتـح البـاري (شرح صحیـح بخـاري) مـي فرمایـد: و آنچـه در فضیلـت و برتـري ایـام ذي الحجـه نمایان اسـت جمع شـدن تمام عبادات در این مناسـبت اسـت، یعنـي: نمـاز و روزه و صدقـه و حـج، و در هیـچ مناسـبت دیگري چنین نیسـت.

سرکردانه انسانان د نوې تګلارې په لټه کې!

نـن ورځ انسـانان د خپـل ژونـد د تېرولـو لپـاره هلتـه او دلتـه ډېـرې تجربـې کـوي تـر څـو نـوې تـګلاره جـوړه کـړي خـو مونـږ ډاډه یـو چـې دغـه تجربـې ختمېـږي او پـه آخـره کـې بـه دا دیـن د تـګلارې پـه ډول خپلـوي.

دا ټولـې تجربـې پـه یـوه تشـه دایـره کـې ګرځـي چـې په مینـځ کې یې د انسـاني تصـور، تجربـې او هغـه پوهې پرته بل څه نشـته د کومې سره چـې ناپوهـي، نقصـان، کمـزوري او انسـاني خواهشـات ملګـري دي، پـدې حـال کـې چـې انسـان ددغـه خـالي دائـرې څخـه وتلـو تـه اړتیـا لـري، تـر څـو یـوه نوې اصلـي تجربـه شـروع کـړي، کومه چې د اوسـنیو تجربـو پـر ځـای پـه یو بـل قانـون ولاړه وي.

د الهـي تـګلارې قانـون چـې د ناپوهـۍ پر ځـای د پوهـې، د نقصان پر ځـای د کـمال، د کمـزورۍ پـر ځـای د قوت او د خواهشـاتو پـر ځـاي د حکمـت څخـه سرچینـه اخـلي او پر دې بنسټ ولاړ وي چې: انسـان د انسـان لـه غلامـۍ څخه ویسـتل او د یو الله په غلامۍ کې ننویسـتل.. (شـهید سـید قطب رحمه الله).

دنباله‌روی کافران!

رسول الله (صلی الله علیه وسلم) می‌فرماید:

«لَتَتَّبِعُنَّ سَنَنَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ شِبْرًا بِشِبْرٍ وَذِرَاعًا بِذِرَاعٍ حَتَّى لَوْ دَخَلُوا فِي جُحْرِ ضَبٍّ لاَتَّبَعْتُمُوهُمْ قُلْنَا: يَا رَسُولَ اللَّهِ: آلْيَهُودَ وَالنَّصَارَى قَالَ: فَمَنْ؟» (رواه مسلم).

ترجمه: «سنن و رفتار آنان که پیش از شما بودند را وجب به وجب و ذراع به ذراع دنباله روی خواهید کرد تا جائیکه اگر در سوراخ ضب (نوعی مارمولک صحرائی) داخل شدند، بدنبال آنان شما نیز داخل آن خواهید شد. پرسیدم ای رسول خدا، آیا منظور شما یهود ونصاری هستند؟ و ایشان جواب دادند: پس چه کسی دیگری؟». (روایت مسلم).

چلوونکی: عبدالرزاق حبیبي

معلومات

۱۰ غوره ورځې!

عبدالله بن عباس رضي الله عنه څخه روایت دی چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلی چې بله هېڅ ورځ داسی نشته چې نېک عمل پکې الله ته دومره خوښ وي لکه په دې لسو ورځو کې، صحابه کرامو عرض وکړو، یا رسول الله: جهاد هم د دې ورځو دعمل برابر ندی؟ نبی کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل هو جهاد هم پدی ورځو کې د شوي نېک عمل برابر ندی، مگر هغه سړی چې ځان او مال دواړه واخلي جهاد ته ولاړشي او بېرته یوهم رانه وړي دواړه قربان کړي (شهید شي).

که غواړئ چې د دې ورځو فضیلت مو په ذهن کې پاتې شي نو لاندې حدیث په غور سره ولولئ او بیا یې مخکینې حدیث سره مقایسه کړئ.

ابو هریره د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت کړی فرمایي: یوه ورځ یو سړی رسول الله ته راغی او ویې ویل: داسې عمل ما ته را په ګوته کړي چې د جهاد سره په ثواب کې برابر وي؟ هغه ورته وویل: چې داسې عمل نه وینم چې په ثواب کې د جهاد برابروي. بیا یې ورته وویل چې: آیا داسې کولي شي چې کله مجاهد له کور ووځي او ته خپل جومات ته ننوځي او دومره لمونځ وکړي چې ستړي نشې او پرله پسې روژه ونیسي او ماته یې نه کړي) هغه وویل چې دا څوک کولي شي؟ او په دې لس ورځو کې د نېک عمل کولو ثواب تر جهاد کولو هم زیات دي. بخاري ومسلم

آیا من و شما هم سهمی از حج داریم؟

برادران و خواهران مسلمانم! گمان نکنید که این ایام و این همه فضایل، تنها از آن حجاج بیت الله است و من و شما از آن محرومیم! نه خیر؛ بلکه پروردگارجهان همه جوینده گان خیر و فضیلت را در این شب و روزها سهیم ساخته‌است، چنان‌چه اگر ما جسماً توفیق مشارکت در کاروان حجاج بیت الله را نیافتیم، اما مي‌توانیم در عالم احساس و عاطفه با ایشان همراه شویم و از فضایل بي شماري، قلب و ضمیرخود را سیراب سازیم و به تعبیر دقیقتر، الله ذوالجلال دراین ایام با صفا، «یک حشَر دستجمعی» را به خاطر کسب ثواب و فضیلت برای عموم امت اسلامي راه-انداخته است که فقط انسان های کم بخت می توانند در برابر آن بی تفاوت باشند. بلی! با نو شدن ماه ذوالحجه، تجلیات رحمت بي‌شمار الله جل جلاله تمام آفاق را پر مي کند و هر کسي به قدر شایستگي یی که از خود نشان دهد و توفیقی که نصیبش شود، از آن مستفید مي‌شود. پیامبر اسلام صل الله علیه وسلم مژدۀ بسیار بزرگی را براي امت شان مي‌دهند که براستي تشنه‌گان معنویت ازآن به وجد مي آیند؛ چنان‌چه ابن عباس رضی الله عنه از آن حضرت صل الله علیه وسلم روایت می کند که فرمودند: «هیچ ایامی در سال نیست که عمل صالح در آن، نزدالله جل جلاله از عمل صالح این ده روز ذوالحجه محبوب تر باشد». صحابه پرسیدند: «جهاد در راه خداوند[در در دیگر روزهای سال] چگونه؟ (آیا آن هم به ارزش اعمال صالح این ایام نمیرسد؟)» فرمودند: «نه خیر؛ مگر مجاهدي که با جان و مال در راه خدا بیرون شود و با هیچ‌یک بر نگردد» (روایت ازصحیح بخاري)

آیا غواړې چې الله تعالی ته نږدې شې؟

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: په سجده کې بنده الله تعالی ته ډېر نږدې وي، نو ډېرې دعاوې کوئ (یعنې په سجده کې). رواه مسلم

غازي او ملا د خپلواکۍ دوه مخونه!

ډاکټر وحید الله مصلح

